ولی احمد نوری ۲۰۱۹/۰۱/۲۲

# افغانستان گلستان اقوام

## قسمت چهل و هفتم



# افغانستان گلستان اقوام

قسمت چهل و هفتم

## پښتون یا افغان څوک دی؟

از

آدم خان یوسفزی

پشاور، پاکستان

پیشاور دسمبر ۲۰۰۵

تقریباً د شلو کلونونه را په دې خوا د "افغان" یا "اوغان" د کلمې په اړه په افغانستان کې په تیره بیا د روشنفکرانو په مینځ کې دیرې لفظی او قلمی شخړې مینځ ته راغلی دی.

پدی کې شک نشته چې افغانستان یا خراسان د ننه د "افغان" کلمه د ملی هویت حیثیت موندلی دی خو که پر دغی مسئالی باندی بی له غرضه او هر اړخیز څیړنې وشی زه باور لرم چې په زړه پورې نتیجې ور څخه لاس ته راځی.

واقعیت خو دادی چې همدا اوس د افغانستان په دننه، غیر پښتانه پښتنو ته "افغان" یا "اوغان" وایی.

اما که له یو پښتون څخه وپوښتل شی چې ته څوک یې نو ځواب یی هرو مرو به همدادی چې: زه پښتون یم. یعنی ځان په طبیعی دول پښتانه گڼی نه افغان. دې نه څرگندیږی چې پښتنو ته د (افغان) د کلمې اطلاق پر سیاسی دلایلو باندی ولاړه یوه خبره ده.

د دغی مسئالی د هرڅه روښانولو د پاره ښه به داوی چې مسئاله در ورشو او دوی څخه واور .

د پختانه "پټانز" په کتاب کښې د دریم فصل عنوان (پختون - افغان: تاریخی سابقه او رېښه) ده. په دې کتاب کښې د "افغان" په باره کښې داسی راځی:

(په لرغونو شرقی آثارو کې "پختون" معمولاً د افغان په نامه یاد شوی دی خو یو شمیر غربی پوهان پردی عقیده دی چې د "بختون" د کلمی سابقه تر "افغان" نه اوږده ده.) په همدغه کتاب کې راځی :

«په عمومی ډول پختنو تل ځانونو ته پختانه بللی دی او د افغانستان نور اوسیدونکو او بهرنیو خلکو اکثره د افغانانو په نامه یې یاد کړی دی.»

«خپله د پختنو په اکثره لیکونو او حتی اشعارو کې "پختون" افغان بلل شوی دی. یو شمیر لیکوالانو او شاعرانو لکه آخوند درویزه او خوشحال خان ختک "پختون" او "افغان" د مترادفو الفاظو په توگه استعمال کړیدی»

بل ځای کې لیکی :

«نولسمی پیړی له اوایلو نه را دې خواته اکثره غربی لیکوالانو او مستشرقینو افغان کلمه په خاصه او قومی مانا د پختون مترادف بللی ده.»

د سلگونو کلونو را دی خوا پارسی وانانو هر هغه چا ته چی پشتو وایی "افغان" گنلی دی. که د یو هزاره، ازبک، تاجک یا بلوچ ځخه وپوښتل شی افغان څوک دی نو سملاسی یو بختو ویونکی به درته و ښیی.

که څه هم په سیاسی لحاظه د امیر عبدالرحمن خان د حکومت له اواخرو نه چی تقریباً ۹۵ کاله کیږی د افغان او افغانستان کلمه به رسمی ډول تبلیغ شویدی. خو دا کلمه همیشه دوه مخه درلود هر چی په ظاهر کي د افغانستان (خراسان) اتباعو ته ویل کیده او په باطن که منظور پختون وو او نن هم هماغه دوه مخیزه "افغان" کلمه په دوو ماناګانو کښي یو یي حقیقی او بل یي سیاسی استعمالیږی چی په خصوصی جرګو کي "افغان" یا "اوغان" د پختون مترادف ګڼل کیږی او جرګو نه باهر رنګ یي بدلیږی او هلته د افغانستان ټولو اتباعو ته افغان ویل کیږی. ځیني خلك غواړی چی "افغان" او "اوغان" په دوو مختلفو ماناګانو کښي تفسیر کړی چی دا بالکل غلطه خبره ده.

سوال دا دی چی آیا د"افغان" کلمه د ملی هویت لپاره یوه مناسبه او قوی کلمه ده؟  آیا د "افغان" کلمه د افغانستان د اتباعو په مینځ کي یو والي راوستلای شی؟ که د افغان کلمی ضعف او قوت په ځیر سره و ځیړو نو دا نتیجي ته رسیږو چی د اوغانستان خلك خو څه چی ټول پختانه هم د افغان یا اوغان کلمی ته د خپل ملی او قومی هویت په سترګه نه ګوری. ددی کلمی د محدودیت او ناتوانی د حقیقت په تائید کي د "سراولف کارو" ځیرنه د پختانه (پټانز) د کتاب نه تاسو ته نقل کوو. دی لیکی :

«که چیری یرسفزی یا خلیل څخه وپوښتل شی چی څوك یي؟ سملاسه په درته ووایی چی زه "افغان" یم. دوی په پختو خبری کوی خو خپله په ختټه ځان "افغان" معرفی کوی.»

مهمه خبره داده چی دوی اکثره پاکستان کی میشته دی او پاکستانی تابعیت لری.

بل ځای کی وایی: « دلوړو سیمو اوسیدونکی ختك، اپریدی، وزیر او داسی نور ددوی په نظر کي پخپلو کي ښه پختانه دی خو دوی په افغانیت کي شك کوی.»
 دغلجی په هکله وایی: « د اصیل افغانیت ادعا ورڅخه پاتی شوې دی.»

او لیکی: «نو لنده داچی ټول هغه پختانه چی د خرشپون (؟؟؟) په کرښه کي ځربن ته رسیږی اصلی او واقعی افغانیت بیرغ لوړ ساتی او د افغانیت کلکه ادعا کوی.»

ټول پورتني ویناوې حقیقت لری او دا سپینه شویده چی د افغانستان ټول پختانه د افغانیت ادعا نلری. صرف محدودې حلقي دی چی د افغانیت جندی جګوی او شعارونه ورکوی چی هغه هم نه ملی او نه هم انسانی بلکه قبیلوی او نژادپالونکی اړخونه لری.

دلته د دغو حقایقو په رڼا کښي مونږ ته دا په ګوته کیږی چی د افغان یا اوغان کلمه پختانه نشی سره یوځای کولای او کوم کلمه چی پختانه یا پختو غږیدونکو ته د قبول وړ دی صرف د «پختون» کلمه ده او بس.

دلته ضروری ده چی یوه مهمی ټکي ته اشاره وشی او هغه د "افغان" د کلمی استعمال قدامت دی.

دوکتور حبیب الله تږی لیکی: « د افغان نوم لږ تر لږه زر کاله پخوا په همداسی شکل په حدودالعالم کښي ذکر شویدی.»

سوال دادی چی د زر کالو په ترڅ کي د فارس امپراتوری کلتور او فشار ونشو کولای چی پختون یي افغان کړی نو په یوه ویشتمه پیړی کي چی د مالوماتو د انفجار پیری دی څرنګه کیدای شی چی دا کلمه (افغان) په ټولو پختنو باندی تحمیل شی؟  لکه څرنګه چی ځیرونکی دا حقیقت څرګنده کریدی چی د افغان کلمه هغه پختانه چی در خرشپون په کرښه کي ځربن ته رسیږی منسوب دی خو وینو چی په دوی کي هم صرف یوسفزی او خلیل کلکه "افغانیت" ادعا کوی چی هغوی هم پاکستان تابعیت لری او کلکه او وفاداره پاکستانیان دی.

اوس سوال دا دی چی ولی پښتون پخپله خپل مستعار نوم "افغان" ردوی او نه یی منی؟

تعجبه خبره داده چی پارسی وانان چی ددی کلمی مخترعین دی څرنګه "افغان" منلای شی؟ لکه څرنګه چی وینو پښتانه هر هغه چا ته چی پارسی وایی پارسیوان وایی. ښایی چی هغه هزاره وی یا ازبك یا تاجك یا پښتون یا بلوچ. دا ځکه چی «پارسیوان» یو ژبنی هویت ده نه قومی یا قبیلوی هویت. په همدی ډول پښتون هم په حقیقت کی دیوی قومی هویت نه یو ژبنی هویت ته تبدیل شوی او دلیل یې هم روښانه دی. او وینو چی نن هغه پښتانه چی په خټه پښتون نه دی لکه: اورمړ قبیلی، متی قبیلی، غلجی، لودی، او داسی نور ټول پښتانه بلل کیږی ځکه چی دوی په پښتو خبری کوی.

د افغانستان یا خراسان د پښتانه په سوسایټی کې یوه محدوده نژادپالونکی شریه حلقې چه اکثره شړل شوی کمونیستان او نورو ملحدینو او مشرکینو دی چی د پښتون والی او پښتونیزم تر پردی لاندی شپی سبا کوی همدوی دی چی خصوصی جرګی جوړوی، د پښتونوالی یا پښتونیزم او اقلیت او اکثریت ناری سوری وچتوی او د خپل شومو مقاصدو تر سره کولو لپاره حتی هغه پارسی وانان چی په خټه کې پښتانه دی او یا پلرونه یې پښتو غږیدونکی وو پښتون ګڼی او غواړی چی د پښتون اکثریت ددی لاری نه تامین کړی.

خو دایي هیرو شوی دی که چیری یوه پارسیوان چی په خټه کې پښتون وو یا پلرونه یی پښتو غږیده پښتون ووایو نو هغه پښتانه چی په خټه کې پښتون نه دی څه وبولو؟ لکه د اورمړ قبیلی ته منسوب قبایل او متی قبیلي ته منسوب قبایل لکه غلجی، لودی، او داسی نور.

سوال دا دی آیا د متی قبیلی ته منسوب قبایل لکه غلجی، لودی، سیانی، نیازی، سوری، او داسی نو چی په خټه که تاجك دې تاجکان یا پارسی وانان ویلی شو؟ که هغه پارسی وانان چی په خټه کې پښتون دی پښتانه بلل کیدای شی، نو په دی حساب ټول پورتنی متی قبیلی هم تاجکان بلل کیږی.

د پورتنیو ویناوی په تایید کې سراولف کارو لیکی: «پاتی ټول هغه څوك چی پښتو وایی او غلجی ته منسوب دی دهلی د پښتنو دوو کورنیو- لودیان (۱۴۵۱- ۱۵۲۶) او سوریان (۱۴۳۹- ۱۵۵۵) په شمول، به ښځینه کرښی څخه پیدا شوی دی.» او لیکی :

« مؤلف پدی ځای کې د یوی کورنی په هکله چی غور (اوسنی هزاره جات) کې اوسیدل او د شعبانی (؟؟؟) په نامه مشهور وو او په دی وختو کې نوی مسلمان شوی وو یادوونه کوی. دا هماغه کورنی ده چی څو پیړی وروسته په (۱۱۹۲) کی یی شمالی هند فتح او اسلام یی خپور کړ او پریتوی راج ته ماته ورکړه. دوی له ضحاك zohak نه ډیر شوی دی. ددی کورنی یو غښتلی ځوان شاه حسین نومیده.»

او لیکی: «بی بی متو شاه حسین ته واده کړه.»

او همداسی لیکی :

« لمړی څرګنده ټکې دادی چی د پخوانیو دوډونو له مخی غلجی له افغان له ختی څخه نه د» او لیکی چی: «شاه حسین تاجک او په اصل کی ایرانی وو.»

دی همداسی لیکی: « د جنیولوژی له مخې مونږ داسی وڅیره چی غلجی د بیټنی زامن او د قیس لمسیان دی خو دا یوازی دده د لور بی بی متو له لاری حسابیری او بی بی متو د یوه باندینی شهزاده له خوا ښځه شوی و هز او هغه حسین نومیده.»

په پای کې لیکی: «په هرحال دا څرګنده خبره ده چی دا شهزاده افغان نه وو.»

دا روښانه خبره ده چی حسین د غوری د کورنی یو شهزاده وو. سراولف کارو د خپل کتاب په پای کې غوریان تاجك او ایرانیان بولی.

د پورتنیو څیرنونه دی نتیجی ته رسیږو چی یو پښتون پارسی وان ته پارسی وان یا فارس یا حتی تاجك ووایو ځکه چی تاجکو کې هم مختلفو قامونو ګډ شوی دی او یو پښتو ژبی تاجك ته پښتون ووایو ځکه چی دواړه ژبنی هویتونه دی که دی باندی ټینګار

وکړو چی پختون یوه قومی هویت دی نو په دی اساس هرهغه چاچی پختو غږیږی او په خټه کی پختون نه دی پختون نه بلل کیږی چی په هغه صورت کې د اصیل پختون او بدل پختون خبره مینځ ته راځی چی دویمه صورت کې هغه چا چی پختو غږیږی او په خته کې پختون ندی پختووان یا مرکب نوم لکه کړانی پختون یا متی پختون یا تاجك پختون ویلای شو.

اما د افغان په هکله باید وویل شی چی دیوه خالصه قبیلی مستعار نوم دی چی صرف دوه قبیله ورته غاړه ایښی ده. چی یو یې یوسفزی او بل یې خلیل دی او نوروته د منلو وړ ندی.

په پختون یا پارسی وان یا تاجکو کلماتو کې یوه مشترکه وجه موجوده ده چی هغه ژبه دی خو په "افغان" کې دا وجه نشو لیدلای.
او زه نپوهیږم چی یو تاجك، نورستانی، ازبک، بلوچ، یا هزاری ته څرنګه افغان بللی شو؟ او پخپلو لیکونو کې افغان دپختون مترادف وګنو؟

ځواب یې د سیاسی له لحاظه آسان دی. آیا دا مو قبوله ده چی، سیاسی له لحاظه، یو پختانه ته تاجك یا ازبك یا هزاره ووایو؟

که مونږ "افغان" سیاسی له لحاظه د افغانستان موجود خلك ملی هویت ومنو نو د پاکستان پختانه ته هم افغان ویلی شو؟

که ځواب مثبت وی نو بیاهم د سؤال ځای دی چی ولی پاکستانی پختون افغان بلل کیږی؟ یوه نژاد پالونکی تیوریسین داسی ځواب ورکوی چی، هغوی پختانه دی او تول پختانه افغانان بلل کیږی. که همدا ځواب وی پدی صورت کې د "افغان" کلمه منحصره ده پختنو ته نو د افغانستان نورو خلکو څه وبولو؟

بنایی یو بل قام پالونکی تیوریسین راشی او ووایی چی د پاکستان پختانه افغان ویلی شو ځکه چی پختون یو قام دی مینځ کې سرحد راغلی دې او مونږ دا سرحد نه منو. مونږ هم دا خبره ومنل، هو! دا یو قام دی او هغوی هم افغانان دی. اوس ګورو چی د بلی خوانه تاجکانو، ازبکانو، ترکمنانو، هزاره ګانو، بلوچانو، او نورستانیو هم د حق غوښتنی آواې پورته کوی او وایی چی زمونږ هم نیمایی قام د سرحد نه هغه خواته په تاجکستان، ازبکستان، ترکمنستان، ایران، پاکستان و حتی په چین کې میشته دی. په دې صورت کې هغوی هم افغانان بلل کیږی! هغوی هم په دی وطن کی حق لری !

که چیری دا ومنو، چه منل شوی هم ده، چی "افغان" د «پختون» مترادفه کلمه ده یا مستعار نوم دی نو په دی اساس بلوچ، تاجک، نورستانی، ازبک، هزاره، ترکمن، او داسی نور بالعموم غیر پختانه دی او افغان نشی بلل کیدای.

ددغو حقایقو په رڼا کې دا په ډاګه کیږی چی افغان یوه قبیلوی مستعاره نوم دی او د ملی هویت دربښودلو ظرفیت نلری.

سراولف کارو لیکی: " لرپختنو (د پاکستان پختانه) بره پختونخوا(موجوده افغانستان) خراسان بولی." لکه څرنګه چی وینو ټول کوچیان هم دا وطن خراسان بولی.

## سؤال دادی چی ولی لر پختونخوا او کوچیان دا وطن د افغانستان پرځای خراسان بولی؟

دا ددی وضاحت دی چی ددی وطن (موجوده افغانستان) اصلی نوم خراسان دی و د ټولو نه جالبه دا خبره ده چی لر پختانه بره پختانه ته خراسانی پختانه هم وایی.

اصلی سؤال دادې چی ددی وطن دخلکو بومی هویت "خراسانی"او اصیل نوم یې"خراسان" یا"خورآسان" چا بدل کړه او څه مقصد یې درلود؟

څه خلك په دی عقیده دی چی احمد شاه بابا در افغانستان مؤسس دی او چا میرویس نیکه د افغانستان بانی بولی. خو حقیقت دادی چی نه میرویس خان په وخت کې د دی وطن نوم افغانستان وو او نه احمد شاه بابا د افغانستان نوم یې اخستې ده احمد شاه وخپل د قبیلی "درانی" حکومت جوړ کړه که څه هم د درانی دولت پاچا وه خو په عرف کې د خراسان امیر بلل کیده.

سؤال دا دی چی افغانستان او افغان نوم کله او څرنګه سیاسی دګر ته راغی؟

کله چی انګریزانو په دی سیمه کې حکومت چلاوه او دهغوی بهرنی سیاست «تفرقه واچوه حکومت وکه» وو او نن هم دی د خپل مشهور او خطرناك ګوداګی عبدالرحمن خان په ذریعه ددی خاورې اصیل نوم "خراسان" څخه افغانستان ته واړوه چی تقریباً ۹۵ کاله کیږی.

انګریزانو په دې ټکی پوه وو چی "افغان" او افغانستان یوه محدوده او قبیلی پوری تړلی نوم دی چی هیڅکله هم ملی یووالي نشی راوستی او په نتیجه کې ګورو چی پس له ۹۵ کاله تبلیغاتو با وجود "افغان" او "افغانستان" ترننه پوری هیڅا حاضر ندی چی ځان افغان وبولی.

انګریزانو تر اوسه پوری دغو دوو کلمو پلوی کوی. نن یا سبا په تاسو ته ښکاره شی که چیری د افغانستان خلك وغواړی چی دا نوم بیرته خپل اصلی نوم "خراسان" واړوی نو یقیناً د انګریزانو کلکه مخالفت سره مخامخ کیږی.

نو په حقیقت کې انګریز د افغانستان بابا دی او د هری بدلون او تغییر د پاره باید له انګریز بابا څخه اجازت وغوښتل شی. انګریزانو په دی باندی ښه پوه وو چی خراسان هغه لرغوني نوم دی چی ټولو قامونو ته منسوپ دی او خراسانی هم هغه ته ویل کیږی چی په خراسان کې میشته دی او دا پیاوړتیا لری دوی سره یو کړی او یوه ټینګه پیاوړی خراسانی ملت بیرته راژوندی کړی او په دی هم ښه پوهیږی چی د خراسان او خراسانی کلمی پوری یو قام تړل و بل قام ور څخه شړل ممکن نه ده لکه څرنګه چی په افغان او افغانستان کلمو کې لیدل کیږی.

ژر یا وروسته دا به ټولو ته څرګنده شی چی انګریزان د "خراسان" د کلمې په مقابل په کلکه ودریږی ځکه دوی ته را په ګوته شوی دی چی خراسان او خراسانی هغه خطرناکه کلمه ده چی کولای شی په لنډه موده کې یو قوی ملی او اسلامی یووالي مینځ ته راوړی.

د پورتنیو څیړنو او عینی واقعیاتو پر اساس یو تاجك، ازبک، غلجی، هزاره، کړلانی، بلوچ، نورستانی، ترکمن، ګوجر، نشی ادعا کولای چی زه "افغان" یم خو دوی په قوت سره د خراسانی ادعا کولای شی. ځکه خراسان د دی وطن طبیعی نوم دی او قومی او قبیلوی اړخ یې نلری. په حقیقت کې د تأریخ په شهادت دوی ټول خراسانیان دی او تأریخ هم دا شهادت ورکوی چی حضرت رسول اکرم (ص) او دهغه یاران هم دا وطن د خراسان په نوم پیږندل او نن د پاکستان پختانه او کوچیان هم دا وطن د خراسان په نامه یادوی او پیژنی او حتی په چین او مغولستان کې هم دا وطن د خراسان په نوم معروف دی.

سره ددی ټولو حقایقو او شواهدو او څیړنو نه انګریز بابا ته دا د منلو وړ نه دی. او ته بیا هم غواړی د انګریزو په نقش قدم د خراسان د مسلمان او مومن ولس د تفرقی او ملی وحدت ماتولو د پاره د افغان او افغانستان کلمه تحمیل کړی. څښتن تعالی په قرآن عظیم الشأن کې فرمایی:

«انا جعلناکم شعو با و قبایل لتعارفوا ان اکرمکم عندالله اتقکم»

ترجمه: مونږ تاسو په قامونو او قبیلو وویشل چی یو بل سره وپیژنی او په تاسو کې غوره هغه ده چی پرهیزګار وی.

دلته ګورو چی الله تعالی (ج) قومی هویتونه د تعارف د پاره پیدا کړیدی. تاجک، پختون، هزاره، ازبک، بلوچ، غلجی، درانی او داسی نور. دا یو انسانی جنایت دی چی یو قام پاڅی او د نورو قومونو هویت لمیځه ویسی او خپل قومی هویت په هغوی تحمیل کوی.

لنډه داچی کوم کسان چی د افغان او افغانستان تر پردی لاندی د ملی وحدت شعارونه پورته کوی دوی پخپله ښه پوهیږی چی درواغ وایی او خپله په خپل خبره باندی ایمان نلری او د دوی مطلب هماغه دوه مخیزه "افغان" دی چی په باطن کې پختون او په ظاهر کې ملی هویت او په اصل کې د قومی هویتونو ترور کول دی.

زه امید لرم مسلمان او مومن پختانه لیکوال د اسلام، عدالت، او انسانیت تر بیرغ لاندی د قام پالنی او پرضد خپل صادقانه او عادلانه لیکلو ته دوام ورکړی. او وزه دلته هغه شړل شوی کمونیستان او قام پال مشرکانو ته وایم چی د پښتانه دین اسلام دی او یو مومن مسلمان پختون یو مومن مسلمان تاجك، هزاره، ازبک، بلوچ، او داسی نور دیو کمونیست او مشرک قامپال پختون نه

غوره ګنی. دا ځکه چی اسلام د قام پالی او رسزم سره سخت په تضاد کي دی او قامپالی او رسیزم د جاهلیت د دوری تیوری ده چی هیڅ مومن او مسلمان پختون په دغه ناوړه او ګنده تیوری پاندی عقیدی نلری. مسلمان او مومن پختون تیوری او عقیده اسلامی وروروِلی دی. ددی نه غټه دلیل نشته چی حضرت رسول اکرم (ص) پختون نه وو، ایرانی هم نه وو بلکه یو عرب وو خو ګورو چی مومن پختانه هغه ته ایمان لری او یقینا ایمان او اسلام او اسلامی وروګلوی د پخت او پختونوالی نه غوره ګنی.

پـــــای

## تبصرهٔ ما:

خوانندهٔ حقپرست و تیزبین حتماً متوجه نکاتی در این نوشته میگردد که دنیای تناقض گوئی در آن ملاحظه می شود، که اندکی از آن را ذیلاً به گونهٔ مثال می بینیم:

- *۱- به فحوای نام نویسنده و محل اقامتش (آدم خان یوسفزی، از پشاور ـ پاکستان) مقاله گویا از قلم یک پشتون پاکستانی نوشته شده. اما:*

از سبک نوشتهٔ نویسندهٔ مضمون پیداست، که نویسنده افغان است، نه پاکستانی. استعمال صد ها کلمهٔ دری درین مقالهٔ پشتو، شاهد مدعای ماست. یک پشتون پاکستانی هرگز این قدر لغات دری را به کار نمی برد. پشتون های پاکستان معمولاً کلمات فراوان انگریزی را در کلام خود (پشتوی پاکستانی) استعمال می کنند، که درین مقاله شاهد آن نیستیم.

نویسنده "پشتون" نیست، بلکه یک "افغان غیر پشتون" است. اغلاطی که از نگاه زبان پشتو و دستور زبان پشتو، غیر قابل بخشایش است، در نوشتهٔ این "آغاپشتون" بسیار سراغ می شود.

شیوهٔ دلیل آوری نویسنده و موادی را که وی در مقالهٔ خود گنجانیده، شهادت میدهد که نویسنده از دَلِ "افغانستانی ـ پسندان" است، آن هم از قماش همان "افغانستانی ـ پسندان" بدقلغ، دو آتشه، ستیزه جو و مکار.

طرز استدلال و مواردی را که نویسنده در مقالهٔ خود جا داده، شباهت زیاد به گفته های شخص کذائی و موهومی به نام "عبدالله رها" دارد، که از مدتیست چهره نشان نمیدهد و خود را گویا در زیر زمینِ شرم و خجالت، گور کرده. عین موارد درین مقاله گنجانیده شده ، که حدوداً یک و نیم سال پیش در مقالات آقای دروغینی به نام "عبدالله رها" در جریدهٔ تفرقه افگن، مفتن و شر انداز "امید" خوانده بودیم.

- *۲ - چرا نویسنده، که اصلاً پشتون نیست، خود را در نقاب یک پشتون پنهان ساخته؟*

از چال های حضرات والای "افغانستانی ـ پسندان" یکی اینست، که خود را زیر لوای پشتونان، نشان میدهند و به اصطلاح ایرانیان خود را "پشتون" جا می زنند. ما اما با این تکتیک های فریبکارانه و نیرنگ های مزورانهٔ ایشان آشنائی کامل داریم. مگر چرا ایشان این کار را می کنند ؟ برای اینکه بنمایانند و به اصطلاح ایرانی «به خورد مردم بدهند»، که وقتی پشتونان افغانستان در بند این کلمه نباشند و خود را "افغان" ندانند، دیگران بنشینند سر جای خود (بازهم به گفتهٔ ایرانیان). آنها گویا بالوسیله و غیر مستقیم، به نفع کلمهٔ ناسزاوار و بدنام "افغانستانی" قلم فرسائی کرده و می خواهند آنرا توجیه کنند، آن هم گویا از زبان یک پشتون و خصوصاً از زبان یک پشتون پاکستانی. اما این آخرین تیرهائیست که ایشان از تیرکش تقلب و نیرنگخانهٔ تفتین خود رها می کنند؛ زود باشد روزی که دیگر تیری در تیرکش شان باقی نماند و برای «بی خلطه فیر کردن» های ایشان مجالی نگذارد.

چون "افغانستانی ـ پسندان" در عرصهٔ رویاروئی و مقابلهٔ مردانه، شکست خوردند، مضمحل گشتند، و برای توجیه اصطلاح نامطلوب "افغانستانی" دیگر دلیلی نیافتند، توطئهٔ خود را رنگ دگری دادند و دست بدامان ادعای رسوای دیگری بردند و کلمهٔ "افغان" را از بیخ و ریشه، نفی کردند.

بلی! "افغانستانی ـ پسندان" آنقدر کری خورده و درین کارزار شکست دیده اند، که دیگر به هر خس و خاشاکی، دست می برند و در کمال درماندگی و درپچالی، در پی مدرک و دلیل می گردند. و اگر درین عرصه، سفسطه هم بگویند ـ که همیشه هم گفته اند ـ و از انگریز مآبی کار گرفته و انگلیس مکّار و بدکار را "بابای خود" هم بتراشند، باکی ندارند.

ما پوست «افغانستانی ـ پسندان» را در چرمگری میدان عمل و در میدان "خدا و راستی" شناخته ایم؛ به هر رنگی که جامه بپوشند، به هر قد و اندامی که بخرامند و به هر ناز و خرامی که تظاهر کنند!

به یاد این به اصطلاح "آقا پشتون پاکستانی" ـ و در واقع افغان "افغانستانی ـ پسند" ـ می دهیم، که هویت های قومی و ملی افغانان را درهم نیامیزد. هیچ افغان منکر بوده نمی تواند، که ما به هویت قومی پشتون هستیم و تاجیک هستیم و هزاره هستیم و اوزبیک هستیم و ترکمن هستیم و قرغز هستیم و ... هستیم. ولی و اما و مگر؛ به هویت ملی همه "افغان" هستیم. ما به حکم طبیعت پشتونیم و تاجیکیم و هزاره ایم و اوزبیکیم و ترکمنیم و قرغزیم و ... ایم، اما و ولی و مگر به حکم تأریخ و جغرافیا، همه "افغانیم."

اگر از یک پشتون افغان هویتش را بپرسید، خواهد گفت، که هم افغان است و هم پشتون، یعنی که به حساب قومی "پشتون" است و به حساب ملی "افغان". اگر از یک هزارهٔ افغان هویتش را بخواهید، بدون شک خواهد گفت که به حساب قومی "هزاره" است ولی به حساب ملی "افغان". و قس علی هذا. هویت قومی خداداد است و کسی آنرا از کسی گرفته نمی تواند، اما هویت ملی تکیه بر قوانین اساسی هر مملکت دارد و می تواند تغییر پذیرد. اگر یک افغان تابعیت امریکا را پذیرفت، امریکائی پنداشته می شود و اگر تابعیت آلمان را پذیرفت، به وی به دیدهٔ یک آلمانی می نگرند و اگر تابعیت ایران را گرفت، در زمرهٔ ایرانیانیان قلمداد می گردد. فرق در اینست که افغانان وطنخواه و افغانستان پرست، اگر تابعیت ممالک دیگر را هم بگیرند، باز هم خود را "افغان" می دانند. ولی "ایران مشربان" و "ایران پرستان" بدون پذیرفتن تابعیت ایران، خود را ایرانی ایرانی جلوه می دهند و "خدای پجات" و به افتخار هم این کار را می کنند. بلی! اینان "خدائی خدمت گاران" ایران هستند.
ضرب المثل معروف کابلی را، که بحال عالی جنابان سخت نکو میخواند، زیبِ فرجام و حسن ختام این تبصره میسازیم، که:

## به لق لقِ سگ، دریا مُردار نمیشه

ادامه دارد

تذکر: هرگاه خوانندگان محترم متمایل باشند که قسمتهای قبلی "افغانستان گلستان اقوام" و مطالب دیگر این نویسنده (ولی احمد نوری) را هم مطالعه کنند، با اجرای "کلیک" برعکس نویسنده، در صفحهٔ مقالات میتوانند به فهرست "آرشیف" وی رهنمائی شوند!